# ناچاپ شعرونه


## ډاکتر کبیر ستوری

**Dr. Kabir Stori**
Kiebitzweg 12
50389 Wesseling
Germany (Deutschland)
**www.kabirstori.com**
**E-Mail: stori@kabirstori.com**


د انټرنیټ په مخ

کمپوز : نسیم خان ستوری

ترتیب : ایمل خان ستوری

## سرلیکونه

| | |
|---|---|
| پښتانه | بوډا یار |
| بسیا | د ګلو یار |
| د یووالی ورځ | هدف |
| د نظر ازادی | د امن جنډه |
| مستی ترانی | ښاغلی |
| د نشه ازادی | ارمانجن |
| سوکالی | |

# پښتانه

پښتانه له پښتونوالی نه بیلیږی
په پښتو باندی له سرا و مال تیریږی

پښتو ژبه او تهذیب د پښتنو دی
د نړۍ په هر ګوډ کې چې او سیږی

پت ، ښیګړه توره وفا ئی خاکه ده
چې د ننګ سره یو ځای شی پښتون کیږی

په پښتو باندی ژوندی په پښتو ویاړی
د سبا د اسمان ستوری شو ځلیږی

# د نظر ازادی

ازادی د نظر نده چې دی خپل نظر ازاد وی
ازادی د نظر دا ده چې بل نظر ازاد وی

که غریب وی که باچا وی حق ئې یو شانته خوندی وی
ستوری وائی د هوښیار هم د پاګل نظر ازاد وی

# بوډا يار

واده نــه وروسـتــه مي يـقـيــن دى سـم پــه لار به شي
پـرون هــلــک وى، نـن سـړى شوى ، سبا پلار به شي

لږ چي مستى کړى دا عــادت دى د پــرون پــاتــى دى
د جــانــان غــيږ کي د پـــرون ځـــنى بـيـزار بــه شــى

اوس دى بــريــتــونــه تــاوه وه مزى دى واخله د ژوند
اخـــر بــه سپينه ږيـــره ګـــرزى بــوډا يــار به شى

د کــاڼــى کــرښــى دى د ســتورى دا خــوږى خــبرى
د زړه پــه غــوږو کــه دى واوريــدى هــوښــيار به شى

# د امن جنډه

يــو مــلــى قـــاعــد امـــام د خـــدايــه غــوارم
چــي پــيــدا کــانــدى وحدت په پــښتــنـو کــي

او جـــنـــډه د امـــن ســـتــورى سـره واخلى
ســولـــه راولـــى د ســيـــمـــى اولــســو کــي

# بسیا

لـیـلا راغـلـی ده لـوزونــه د وفـا کـوی نــور
وائـی د کلـی لـوی واړه راتــه دوعـا کـوی نــور

پـخـپـل قسمت نـور ژړا نـه کـوی قسمت بـدلـوی
ډیـر ئـی ژړلـی دی همـدومـره بــه بسیـا کـوی نـور

قسمت هـر څـوک شی بـدلـولی چـي تکل ئـي وکړی
چـي تکـل وکړی خـدای د خپل بـنـده رضا کـوی نـور

چـي د غـیرت ویـنـه ئـي مـیـنه شـی پښـتـو بـه کـوی
پــه هـر یـو کـار کـي بـه د ستوری سره سلا کوی نور

# سوکالی

څوک خپل وطن خرڅوی ، قام خرڅي پسی ټولوی
زه د خپل قام او وطن نـه تـیریدلـی نـه شـم

څوک استعمار ته نوکری کړی خپل اولس لـوټوی
زه استـمـعـار تـوری تـیـاری هـډو مـنـلـی نه شم

یـــا کـــړی لاره د خـــپـل ځـان د ابـــادی خـــوښـــه
ســتـوری کـړه لاره د ټول قام د سـوکالـی خـوښـه

# د ګلو يار

وخته راځي که نه زه تا ته انتظار يم
د ښکلاګانو تماشې ته په تلوار يم

ته چې تيار وې زه تيار نه وم ماشوم ومه زه
اوس چې زلمی يم تا ته زه سترګې په لار يم

راځه راځه چې د ګلو ننداری ته لاړ شو
زه ګل پرست يم ازلي د ګلو يار يم

چې ستوري ښکاري او سپوږمۍ اسمان کې وي ولاړه
په داسې شپه کې زه د هر ګل خدمتګار يم

# د يووالي ورځ

زړه مې خوشحال دی نن د قام ديوکيدو ميله ده
ورځ د يووالی ده د ټولو پښتنو ميله ده

دا ملي وياړ ، ملي دوستور ، ملي اختر دی زمونږ
لوی او واړه خوشحاله دي د خوشحالو ميله ده

داد قامی وحدت پالنه او ساتنه کوي
د ټول پښتون په يو مرکز د غونډيدو ميله ده

د پښتونخوا د خپلواکی او سوکالی د پاره
مشران راټول دی د جرګو د فيصلو ميله ده

# هدف

بې هدفه ، بې نښتونه که جهان وی
نه به ګل ، نه به بلبل ، نه به باغوان وی

خدای هر څه دي يو هدف ته پيدا کړی
بې هدفه ژوند به ګران ډېر د انسان وی

که ښکلا او خوشبوی په ګل کې نه وی
تو پير څه به د ګلونو او د زوزان وی

بلبلانو به بيا څه کول په باغ کې
تول د خلمی به د باغ ځنی روان وی

که دنيا کې مينه نه وی ، ښايست نه وی
نو به څه حال د ژوندون بيا د انسان وی

چې اسمان پری نيمه شپه کې ښايسته ښکاری
نه سپوږمۍ او نه به ستوری د اسمان وی

# مستی ترانـــی

راڅه چې دا مستی نغمی کړو پښتـنو کـې تـیـتی
څو تـرانـی د قـامولـۍ شی قام بچو کې تیتی

چې ورته څواک د نوی ژوند او د غور ځنګ ورکړی
ګـرمی ولولی شی د وطن په شا زلمو کې تیتی

د قام ولی جذبی چې غرو کې انګازی جوړی کړی
بیا ورته غورځه شه چې شی زړه او په مغزو کې تیتی

چې ساز سرود ورته د نوی ژوند نغمی جوړی کړی
تـولـی نغمی شـی د وطـن په سردرو کې تـیـتـی

د کونړ ستوری ورتـه مسـتـی تـرانی جوړی کـړی
پـښـتـونـولـی ناری شی قـام پـه مـیـړنو کې تیـتـی

# ښـاغلـی

چې نغمې مې د بلبلو واوريدلې
باغيچې مې د خپل کلي يادي شولې

زړه چې کله د جنت ښکلي غوښتلي
ما دا ښکلي د دنيا ورته ستايلي

دا زما وطن نړۍ په سر جنت دی
سردري لري بې شانه ښکلې ښکلي

د جنت د مې جامونه به چپه کړي
که اوبه ئې د کونړ د سند وي ځکلي

خو کمبود د اتحاد دی ځما قام کې
د نفاق اور کې ځانونه دي سيزلې

روښان اند ئې د غلام ذهن خاوند دی
د پردي خدمت کوي به خپل ځغلي

ستوری روڼ د اتفاق که د پښتون شي
بيا به دوی شي په قامونو کې ښاغلي

# د نشه ازادی

قربان د وطن نه سر ځما مزه کوی
سری شونډی دنګه غاړه د اشنا مزه کوی

رندانو په مفحل کې چې د ژوند د میو ویش وی
ساقی د میو جام ګوتو کې ستا مزه کوی

را واړوه ساقی د ازادئ مئ چې نشه شم
نشه د ازادی د پښتونخوا مزه کوی

د ګل په طمه ژوند د اغزو سره اشنا یم
په سمه غر کې سورګل د لالا مزه کوی

دا ستوری د ژوندون د ازادی زما خوښیږی
د هسک په لمن ستوری د سبا مزه کوی

# ارمانجـــن

پـه ځـوانـی کـې د ښـایست بن ښه سمسور وی
چـې بـوډا شـی د ځـوانـی بـن ئـې تـالا شی

په هغـه جهان ځـوانـی لـه خدایـه غـواړی
پـه سـجـده شی پـاک الله تـه پـه دوعـا شـی

خوله کـړ شوپه مخ ئې ګونجی ملا ئې کړوپه
بـلا ښـه ده چـې پـه مـخـه چـا تـه راشـی

سـتـوری دومـره انتــظار ونـکـدی نــه شی
څنګ به ښه وی چې ځوانـی پـه دنـیـا راشی

ښـه ده دا چې ځـوانـی بـیـا پـه دنـیـا راشـی
ارمـانـجـن بـیـا د ځـوانـی غـریـب بـوډا شـی